# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسائل آیدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۰۹ می ۲۰۱۶

## نه دیرشم مجلس(داولیاواوصالحینودوستی)

د ۵۴۵ هجری قمری کال درجب په دوولسمه دجمعی په ورځ سهار شیخ عبدالقادرگیلانی(رضی الله تعالی عنه) وفرمایل:

که ددنیا اوآخرت دمال غوښتونکی یی، خپل ټول وجود عزّوجلّ خدای ته پریږده، چی په خپل نفس به هم فرمانرواشی. زه درته نصیحت کوم ویی منه. ستا تصدیق کوم ،زما هم تصدیق وکړه، زه درته دروغ نه وایم، پس نباید راته دروغ ووایی. تل له تاسره په ریښتینولی خبری کوم، نوته هم صدق اوراستی مراعات کړه، ځکه معروفه ده چی:«په هرلاس چی دورکړل، په هماغه لاس به یی اخلی». ددین دناروغی دوازماڅخه وغواړه، اوهغه په کارواچوه، ترڅوعافیت اوسلامت ترلاسه کړی. تیروخلکو که په ختیځ اولویدیځ اوټوله نړی کی دصلحاوپه طلب پسی چی ددین اطبا دی، تیره کړی، اوهرکله که به ددوی څخه له یوه سره مخامخ شول، نودرنځ ددوا غوښتنه به یی له هغوکوله. ولی نن ورځ ته داولیاو، فقهاو اوعلماوچی ددین طبیبان دی، په نسبت کرکه کوی، اونه پوهیږی چی دوی دډولنی معلمین اومربیان دی.(هوکی۹ په همدی سبب دی چی دخپل دین دمرض په تداوی کی ناتوانه یی اوپه لاس کی څه نلری. زه به ستالپاره څه کاروکړم، په داسی حال کی چی زه ستا طبیب یم اوهره ورځ درته نوی نسخه وړاندی کوم ولی ته هغه ځیری اوخرابوی یی. زه ستا درنځ دوامعینه کوم ولی ته یی له کارولو څخه ډډه کوی. درته وایم چی داګوله مه خوره چی سمی(زهرجنه) ده ولی ته هغه په ډیره اشتها خوری، اوپوه شه چی ددی خوړو زهر به ژرستا په دین اوایمان کی ظاهرشی. زه درته پند درکوم، نه دی له توری داریږم، اونه دی مال ته سترګی نیسم،هرچاچی دخدای لپاره کوم کارترسره کړله چاڅخه نه بیریږی. له انس اوجنه اوله هرهغه شی نه چی دډاراووېری سبب ګرځی ، باک نلری.

هغه بزرګان چی پرخپل علم عامل دی، په ټیټه سترګه مه ګوره، ته دعزّوجلّ خدای اودهغی درسول اوصالحوبندګانو چی دتبارک وتعالی خدای په موافقت کی اوسیږی، په پیژندګلوی جاهل یی. ددین اودنیا بشپړ سلامت پرقضا باندی رضا، اودهیلولنډول اوله دنیا څخه په زهد کی پروت دی. زه تاسوضعیف النفس اودمرګ له یاده لیری اودهیلوپه نه کمیدو کی وینم.

پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) دپروردګارله لوری داسی فرمایلی(حدیث قدسی): (مَاتَقَرَّبَ الْمُتَقَرِبُونَ اِلَیَّ بِاَفْضَلَ مِنْ اَداءِ مَاافْتَرَضتُ عَلَیهِم، وَلایَزالُ عَبدِی یَتَقَرَّبُ اِلَیَّ بِالنَّوافِلِ حَتَّی اُحِبَّهُ فَاِذا اَحْبَبْتُهُ کُنْتُ لَهُ سَمعاً وَبَصَراً وَیَداوَمُؤَیِّداً، فَبِی

يَسْمَعُ وَبِی يُبْصِرُوَبِی يَبْطِشُ)-« ترټولوغوره شی چی بنده ماته نیږدی کوی، تفرائضوترسره کول دی، اوتل بنده دنفل لمونځونوپواسطه ماته نیږدی کیږی، ترڅو هغی مرحلی ته ورسیږی، چی هغه ماته هم ګران شی، اوهرکله که بنده زما دمحبت وړ وګرځید، زه به یی سترګی،لاسونه اوغوږونه وګرځم، چی زماپوسیله وینی، اوری اودځواک ابرازکوی».

خپل ټول اعمال خاص دتبارک وتعالی خدای لپاره ترسره کوی اودده پوسیله دنفس اوځان غوښتنی له قید څخه خلاصون مومی، خپل ټول توان اوځواک له خدایه ګنی، نه له خپله ځانه اویانورو. خپل نفس اودنیا اوآخرت دحق په طاعت اوعبادت کی خلاصه کوی، نوهرومرو به خدای ته نیږدی کیږی اودحق دمحبت وړ به ګرځی. ځکه بنده دطاعاتو اوعباداتو پواسطه خدای ته نیږدی کیږی، اودمعصیت په وجه له خدایه لیری کیږی. دعباداتوپوسیله دانس مقام ته اودګناهونه پوسیله دوحشت مرحلی ته رسیږی، ځکه یوازیتوب اواوحشت دناوړه عمل سره مل وی.

له شریعت څخه پیروی دخیر اوبرکت موجب دی، اوله هغی سره مخالفت شراوبدمرغی سبب دی.  هرچاچی په خپلو ټولو کړوکی دشرعی له مقرراتوڅخه پیروی ونکړه نو دهلاکینو له ډلی به وی. خالصانه عمل وکړه اوزیاروباسه، ولی په اعمالو تکیه مه کوه،  ځکه هرچاچی عمل ترک کړ، نوبی ځایه طمع اوانتظارلری، اوهرچاچی په عمل تکیه وکړه نوخودخواه اومغروره دی. یوه ډله ددینا اوآخرت ترمنځ دریدلی، اوبله ډله دجنت اودوزخ ترمنځ ولاړ دی،  اوکه عارف یی نو دخالق اوخلق ترمنځ به یی. یوځل خلق ته ګوری بیا دخالق دصنع آثاروته. قوم دآخرت اوحساب اوهغه څه چی هلته دی، له خپلو مشاهداتو خبرکړه، ګرکه اوریدل دلیدلوپه شان ندی. دراستانو قوم دلقاء الله په انتظارکی دی، تل دمرګ غوښتونکی دی، اوله هغی هیڅ ویره نلری ځکه هغه دمحبوب دلقایوه وسیله بولی.

له ځانه بیل شه، مخکی له دی چی بیل دی کړی. له دنیا څخه لاسونه لنډ کړه،مخکی له دی چی لاسونه دی لنډکړای شی. مخکی له دی چی لیری دی کړی، لیری شه. پوه شه ، کله چی قبرته داخل شی، زن اوفرزند اوټول خلک به درته هیڅ ګټه ونه رسوی، نو حتی باید دمباح خوړخخه هم په حرص ګټه مه پورته کوه.

(ای قومه)  په ټولو احوالاتو کی دتقوی اوورع لوری مراعات کړی،  ځکه ددین جامی تقوی اوورع ده،  ددین داجامه له ماوغواړی، له ماپیروی وکړی، ځکه درسول الله (صلی الله علیه وسلم ) په خط کی قرارلرم، دنعمتونو (خواړه، څښاک، پوښاک، واده اونورو...) په استفاده کی درسول الله (صلی الله علیه وسلم) دسنتوبشپړ متابعت کوم اودبل څه په فکرکی نه یم، دنورو مدح اوذم(ستاینه اوغندنه) په هیڅ هم نه شمارم. دخلکو عطا اومنع، اقبال اوادبار، او خیروشر راته بی اعتباره دی.

ولی ته جاهل یی،  اوله جاهل سره نباید مبالات وشی. که دی عبادت ترسره کړ،ولی دجهالت سره اوپه پټوسترګو، هغه عبادت دمنلو وړندی. نبی اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (مَنْ عَبَدَ اللهَ عَزَّوَجَلَّ عَلی جَهْلٍ کانَ مآيُفْسِدُ أَکْثَرَ مِمَّا يَصْلِحُ)-« هرچاچی دجهل له مخی دخدای عبادت وکړ، له صلاح څخه فساد ډیردی».

هوښیاراوسه، ترهغی به ونه ژغورل شی ترڅوځان په ټوله سره دکتاب اوسنت تابع ونه ګرځوی. یوه له بزرګانوڅخه ویلی چی دهرچاچی لاربنود نه وی، ابلیس دهغی لاربنود دی،  پس دکتاب اوسنت څخه دتابعو شیوخوڅخه پیروی وکړه اوددوی په نسبت حسن ظن ولره، اوله دوی څخه علم اوادب زده کړه، اوددوی پروړاندی دادب لوری مراعات کړه ترڅورستګاری ته ورسیږی.  هرکله که دکتاب اوسنت اودهغوبزرګانو چی دکتاب اوسنت تابع دی، پیروی ونکړی، هیڅکله به هم بریالی نشی، نه ددی اوریدلی چی ویلی دی: هرچاچی درائی استبداد درلود هغه ګمراه دی. ځان دهغوخلکوسره په ناسته، چی ستاڅخه په علم کی پورته دی عادت کړه، له دوی څخه یی زده کړه اوبیایی نورو ته وښئیه. پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (إبْدَأْ بِنَفْسِکَ ثُمَّ بِمَنْ تَعُولُ)-« لومړی له ځانه پیل کړه بیاله نورو»

اوهمدارنګه یی فرمایلی: (**لَاصَدَقَهَ وَذُو رَحِمٍ مُحْتاجٌ**)-«نوروته صدقه ورکول، په داسی حال کی چی په خپل قوم کی اړکسان ولری، ګټه نلری».

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار» آمین.**